# د خوشحال بابا ځنې شعرونه او تاريخي حقيقتونه

# A glance over historical occurences in the poetry of Khushal Baba

ډاکټر علي خېل درياب*

**Abstarct:**

Khushal khan khattak has illustrated the incidents of worldwide history in general and the incidents of Indian history with special references in his poetry. His description of these historical events is highly appreciable. But his account of certain historical events contains errors and mistakes. As an attempt to rectify the flawed historical narration, This research paper is going throw light on those verses of khushal Khan Khattak which have the historical shortcomings.

توکلت علي الله وينا يوه ده
د خوشحال د زماني سره ساز نۀ شته (1)

د ستر خوشحال بابا دا دعوٰی نۀ خو مبالغه ده، نۀ نرګسيت دی او نۀ محض شاعرانه تعلي ده. بلکې دا يو سوچه او کوټلی حقيقت دی. چې خوشحال بابا يو بې بدله شخصيت درلود، اود خپلې نابغه روزګارۍ په اساس د هغه نعم البدل نۀ خو په هغه اوان موجود ؤ، او نۀ وروسته د پښتنو خاورې بل خوشحال وزيږوۀ، ځکه نو مونږ وئيلې شو چې خوشحال بابا د خپلې دې وينا عملي تفسير ؤ، چې

نۀ به زما غوندې بل ننګيالی راشي
نۀ به زما غوندې بل جنګيالی راشي
خټک لا پريږده په درست افغان کښې
عجب که هسې فرهنګيالی راشي (2)

خو ددې هر څۀ باوجود چې مونږ ټول د خوشحال بابا د عظمت، علميت او لوی تدبر قائل يو. او څوک هم په دغه لړ کښې دوېمه رائې نۀ لري، ولې هغه هم انسان ؤ، او انسان کمزوری دی. الله تعالٰی د انسان دغه کمزوري په قرآن کښې داسې ذکر کوي:

"يريد الله ان يخفف عنکم وخلق الانسان ضعيفاً. (3)

ترجمه: (خدای پاك غواړي چې ستاسو بوج کم کړي او انسان کمزور پيدا شوی دی).

ښاغلی غني خټک د خوشحال بابا په حقله ليکي:

* Chairman, Department of Pashto and Oriental Languages, University of Malakand

ترجمه: خوشحال خان د خټک قبیلې یو نوموړی خان، یو ستر پښتون او غیر معمولي ذهين شخصیت ؤ، یو داسې ذهين شخصیت چې پښتنې ټولنې د هغه د مقابلې ذهن او شخصیت د پیړو تېریدو باوجود هم پیدا نهٔ کړی شو، په دنیا د ګوتو په شمېر د هغهٔ په څېر شخصیات پیدا شوي دي، هغه په هر لحاظ یو ځانګړی انسان ؤ، خو دا هم ده چې دیو انسان په حیث د هغهٔ شخصیت مونږ د خامو او کمزورو نهٔ مبرا نهٔ شو ګڼلی، دا هم ممکن ده چې هغه به د خپل کردار او کارنامو په حواله لاڅې هم کړې وي خو د هغهٔ په شخصیت کښې د ممکنه خامو باوجود هغه د پښتنو،پښتون ؤ"(4).

دې لیکنه کښې زهٔ هڅه کووم چې د خوشحال بابا ځنې شعرونه د تاریخي حقائقو په رڼا کښې وسنجووم او په دغه شعرونو کښې کومې سهوې او تیروتنې شوې دي، د هغو سپناوی او رڼاوی دې وکړم، محض په دې خاطر چې تاریخ دې سم شي او دغه نا سمی دې تاریخي شهاد تونو او حقیقتونو ته برابر کړې شي نهٔ چې د خان عیلین مکان په کلام دې نیوکې وکړم. ځکه نو دهر څهٔ له مخه زهٔ د خپلې کم علمی او کم فهمی اعتراف کووم چې که په دی لړ کښې زمانه کومې غلطی وشي نو دغه به زما کم علمي وي ځکه چې زهٔ هم انسان یم اوپه دغه اساس د پیشګي بخښنې خواستګار یم.

خوشحال بابا د بهلول لودي د حکومت دوره داسې ذکر کوي

بـــــیا بـــــهلول لـــودین بادشـــاه شـــو د دهلـــي
چـــې پـــه تخـــت ئـــې نـــهٔ ویشـــت کالـــه حکومـــت ؤ (5)

د خوشحال بابا ددې شعر نه جوتیږي چې بهلول لودي یو کم دیریشت کاله د دهلي په تخت ناستی کړی دی، ولې د تاریخي شواهدو نه ښکاره ده چې بهلول لودي په هندوستان باندې اته دیریشت کاله حکومت کړی دی. لکه سیدبهادر شاه ظفر کاکا خیل چې لیکي:

سلطان بهلول د اتهٔ دېرش کاله حکومت نه پس ۸۹۸ هجري کښې د اتیا کاله په عمر کښې وفات شو. هغه یو انصاف پسند، متواضع او بار اوړونکی انسان و. (6).

دغه رنګ لوی تاریخ پوئې ښاغلی هدایت الله چوهدري هم دغه دوره اتهٔ دېرش کاله یادوي لیکي:

ترجمه: بهلول لودي ډېر ساده مزاجه او نیک سیرته حکمران ؤ، د هغه د غرور او لوی نه سخت نفرت ؤ، جامه ئې ډېره ساده وه، هغه به د بې وسه او عالمانو ډېر خیال ساتلو، د رعایه شکایات په ئې خپله اورېدل، د اتهٔ دېرش کاله حکومت نه پس ۱۴۸۸ ع کښې وفات شو۔ (7)

په یو بل شعر کښې خوشحال بابا د تیمور حمله او بیا خضر خان ته د حکومت سپارل داسې ذکر کوي:

بیـــا لـــه پســـه چـــې تیمـــور پـــه هنـــد راکښـــیوت
خضـــر خـــان تـــه ئـــې ورکـــړی حکومـــت ؤ (8)

د خضر خان په حقله د خوشحال بابا ددغه شعر نه جوتيږي چې امير تيمور کله په ۱۳۹۹ ع کښې د فيروز شاه تغلق زوی محمود شاه تغلق له ماتې ورکړه او سمر قند ته ستنيدو نو د هندوستان حکومت ئې خضر خان ته ورکړو، ولې تاريخي شواهد د خوشحال بابا د بيان لړ په بل رنګ دي، د مورخينو د ليکنو تر مخه امير تيمور د واپسي په وخت خضر خان د لاهور او ملتان صوبه دار وټاکلو، د ځنو نورو د بيان له رويه د لاهور او ملتان سره سره ئې د ديپال پور صوبه داري هم دۀ ته سپارلې وه، نۀ چې دۀ ته ئې د هند حکومت ورکړی ؤ.

"" د تيمور د حملې په وخت کښې د ملتان او لاهور په علاقو کښې ډېر پښتانۀ بالخصوص نيازي او لودي قبائل اباد وو، دې خلقو د تيمور د نمسي سره شديد جنګونه کړي وو، لين د ملتان حاکم سيد خضر د (پير محمد د نمسي) مرسته کړې وه او د هغۀ اطاعت ئې منلی ؤ، او دغه وجه وه چې تيمور په خپلې واپسی کښې سيد خضر خان د خپل طرف نه د ملتان او لاهور حاکم مقرر کړو"(۹).

د تغلق خاندان د کمزورو او د امير تيمور د حملې له وجې په ټول شمالي هندوستان کښې باچا ګردي جوړه شوې وه، چونکې مرکزي حکومت نۀ ؤ، ځکه نو په هره سيمه مقامي اميران خپلواکه وو. چې څۀ ئې په زړۀ راتلل هغه ئې کول. دمحمود تغلق د وفات نه پس په۱۴۱۲ ع کښې پښتنو مشرانو خپل سردار دولت خان لودي وټاکلو، خو ډېر زر د امير تيمور مقرر کړي حاکم خضر خان په دهلي قبضه وکړه،او د ساداتو د کورنی بنياد ئې کېښود"( ۱۰)

خوشحال بابا وائي:

کـــــه ناســــتی د ناقابـــــل پـــــه ســــرير پــــاس دی
پـــه معنـــي کښـــې خنـــدان خـــان شـــاه عبـــاس دی (11)

دخوشحال بابا دغه شعر د دستار نامې د دوئم هنر (د علم چې کسب کمال بالۀ شي) نه اخستې شوې دی، دی شعر کښې ستر خوشحال بابا د شاه عباس مثال ورکړی دی، چې هغه ناقابله دی. دغه خبره سمه نۀ ده ځکه هغه چې د خپل اقتدار برقرار ساتلو دپاره کوم موثر اقدامات کړي وو هغه ددۀ په قابليت دلالت کوي،البته د مورخينو د وينا تر مخه هغه يو بدګمانه او ظالم سړی ضرور ؤ.

"د شاه عباس دور د صفوي خاندان زرين دور بللې شي، د محمد خدا بنده نه پس چې شاه عباس د ايران د سرو او سپينو مالک شو، نو دغه وخت د هغۀ عمر ايله اوولس کاله ؤ، د ايران په قطبي لويديز عثماني ترک قابض ؤ، او په ختيز کښې خراسان د اوزبکو په ولقه کښې ؤ، يا د هغوی د حملو ښکار ؤ، د ملک دننه اړی ګړی په درز کښې روان ؤ، او د صوبو امرا هم سرکشي اختيار کړې وه، شاه عباس ددغې صورت حال په ډېره هوښيارتيا سره مقابله وکړه، هغه دټولو نه مخکښې د ترکانو سره لوظ نامه وکړه او د اذربائيجان، ګرجستان او لرستان يوه برخه ئې ترکو ته ورکړه، دشاه اسماعيل د وخت نه چې په ايران کښې په اصحابو کرامو د بد وئيلو کوم قبيح رسم راروان ؤ، هغه دۀ بند کړو، او

دا رنګ ئې عثماني ترکان تر ډېره حده مطمئن کړل. کله چې شاه عباس د خبتن سرحد د ژغورنې کار سر ته ورسوو، نو بیا ئې خراسان ته پاملرنه وکړه، په دغه اوان د اوزبکو طاقتور حکمران عبدالله خان مړ شوی ؤ، ځکه نو شاه عباس په ډېره اسانۍ سره ازبکان د خراسان نه واېستل او د صفوي سلطنت بریدونه ئې د هرات او مرو پورې پراخه کړل...... شاه عباس اګرچې یو کامیاب او زیرک حکمران ؤ، ولې د اعظم لقب د هغهٔ سره خوند نهٔ کولو، ځکه چې هغه بې کچه ظالم او شکي مزاج سړی ؤ"(12).

خوشحال بابا په یوه اوږده قصیده کښې د هند د حکمرانانو ترتیب وار تاریخ بیان کړی دی،په دغه قصیده کښې یو ځای وائي:

بیـــا لـــه پســـه ســـکندر شـــاه د محمـــد شـــاه ؤ
چـــې پـــه تخـــت ئـــې یـــو نیمـــه میاشـــت مهلـــت ؤ(13)

ستر خوشحال بابا ددې شعر نه وړاندې شعر کښې د ابابکر په هند د حکمرانۍ ذکر کړی دی، کوم چې په هند د حکمرانانود ترتیب له مخه سم دی خو په دې بره ذکر شوي شعر کښې بابا وائي چې د ابابکر نه پس سکندر شاه د هند د واک واګې په لاسو کښې واخستې، خوتاریخي حقیقت داسې نهٔ دی ځکه چې د ابابکر نه پس د سکندر شاه پلار محمد شاه په تخت ناست دی او پوره څلور کاله حکومت ئې کړی دی، نهٔ چې د ددغه شعر تر مخه سکندر شاه بادشاه شوی دی.

د اسلامي تاریخ پاکستان و هند لیکوال لیکي.

"په ۱۳۹۰ع کښې ابوبکر تغلق د یو کال حکومت نه پس دهغهٔ ترهٔ محمد شاه په تخت قبضه وکړه، او هغه ئې په زندان کښې واچوو، شائد چې محمد شاه به حالات قابو کړي وو، خو دڅلور کاله لنډ شان حکومت کولو نه پس په حق ورسېد. (14)

دغه رنګ خوشحال بابا د علاوالدین په حقله وائي:

بیـــا نمســـی د فیـــروز شـــاه علاوالـــدین ؤ
چـــې بـــه خلـــق او پـــه کـــرم ددهٔ شـــهرت ؤ (15)

د علاوالدین خلجي د شهرت وجه خوشحال بابا د هغه لطف وکرم ښودلې ده، خو د برني دا وینا ده چې:

"د هغهٔ د عالم سره نهٔ لګېده او د هغهٔ د فطرت د سختۍ او بې رحمۍ سوب هم دغه د علم سره نالګي وه، ځکه چې علم سړي ته انسانیت او مهرباني پیرزو کوي. علاوالدین فطري بې رحمه، مغرور او ډېر سخت مزاج ؤ. هغه به د فرعونیانو په انداز کښې ظالمانه سزاګانې ورکولې. او ددغه سزاګانو نه هغه هیڅا هم نهٔ شو منع کولې، خوا که ډېر نژدې تعلقات به تر مینځه شو. یا به د وینې رشته مخې ته راغله، خو د علاوالدین لاس چا هم نهٔ شوه نیوې." (16)

سوداګرو له بهیمانه سزاګانې ورکول، د دهلي په عوامو ظلمونه کول،او د خپلو نږدې رشته دارانوقتلول دده کرکژن اعمال وو، دغه رنګ د جلال الدين،عمر خان او منګو خان وژل، الغ خان له زهر ورکول د بادشاه په غير انساني فطرت ګواهي ورکوي، دا خبره په خپل ځای سمه ده، چې په هغه اوان دامیرانو باربار بغاوتونه او د سرکاري افسرانو شیطانۍ د بادشاه د سخت طبعیتۍ کافي جواز پيدا کوي،خو ددې سره سره ددې نه هم انکار نۀ شي کېدی چې د هغۀ سزاګانې د بربریت تر حده رسیدلې وې." (17)

"د سلطان طبیعت منتقمانه ؤ، هغه چې به يو ځل د چا نه بد ظن شو، نوبیا به ئې د هغه په ختمولو کښې يوه ګړۍ هم نۀ ضائع کوله، دغه شان چې هغه به يو ځل څوک په زندان کړو نو بيا به ئې د هغۀ د را ازادولو هېڅ سوچ هم ذهن ته نه راويستلو، او ګڼ شمېر بې ګناه خلق هغه محض په دې وجه په سزا کړي وو چې هغوئ بادشاه مجرم ګڼلو." (18)

علاوالدين ته چې تر څو د جلالي اميرانو د مدد ضرورت ؤ، نو تر هغې پورې علاوالدين هغوی ته منصبونه او دولتونه ورکول، د هغوی نازونه ئې وړل، هغوی ته ئې عزتونه اعزازونه بخښل خو هر کله چې د هغه تخت محفوظ شو نو هم دغه اميران وو چې زمکې او جائيدادونه ئې ترې واخستل، څوک ئې اووژل او څوک ئې په زندان کړل، داد هغۀ د فطرت هغه خيرن والی او خچنوالی ؤ، چې د هغۀ ضمير ئې بې حسه کړی ؤ، او هغه ئې دغه رنګ کرکژن کارونه ته لمسولو. (19)

د امير خسرو د ليکنې تر مخه " علاو الدين به د کوډ ګرو، جادو ګرو سره ډېر ناروا سلوک کولو او هغوی له به ئې د سنګسارولو سخته سزا ورکوله. " (20)

خوشحال بابا د شمس الدين په حقله وائي:

بيـــا لـــه پســـه شـــمس الـــدين دده پالـــک ؤ
چـــې پـــه خلقـــو ئـــې اواز د عـــدالت ؤ(21)

"شمس الدين د قطب الدين ايبک غلام ؤ، چې هغه له د خپلو زامنو تربيت کړی ؤ، وروسته ئې د زوم په صورت کښې زوی هم جوړ شو، او کله چې د قطب الدين ابېك د مرګ نه پس د هغۀ خپل زوی ارام شاه په تخت کښېنولی شو، نو لږه موده پس ثابته شوه چې هغه د تاج و تخت جوګه نۀ دی، نو شمس الدين ته د ملک اختيار ورکړې شو، دغه وخت دۀ ته ځنې ګورنرانو ډېر مشکلات پيدا کړل، ولې دۀ پسې توره راوانخستله. بلکې د رشتو کولو په جوړ ئې ددغه ګورنرانو سرکشي ختمه کړه، په فوځي مد کښې راجپوتان يو ځل بيا رامخې ته کړل. او د هندوانو د بغاوتونو خبر ئې واخستو. دغه رنګ ئې د راجپوتانه او ګنګا دواب په اخستلو، خپل ملک په اندروني توګه مستحکم کړو، د عالمانو او مشائخو سره ئې ډېر ښۀ تعلقات قائم کړل.چې په نتيجه کښې ددۀ حکومت ته ډېر تقويت

ورسېد. ددې نه علاوه ئې د يو ماهر سياستدان په توګه جلال الدين خوارزم شاه په دهلي کښې پناه ور نۀ کړه، او دا رنګ ئې خپل سلطنت د منګلولو د حملې نه وژغورلو، ددې هر څۀ نه سربېره هغه دباسي خليفه المستنصر بالله نه د دهلي د ازادۍ او خپلواکۍ په حقله سند او خلعت واخستلو او خپل سلطنت ئې بې حده فراخه کړو، لنډه دا چې شمس الدين خپل اقتدار کښې ډېرې ارزښتناکه ګټې وکړې. او اسلامي سلطنت کښې ئې د هماليې نه تر نربدا پورې او د سندھ نه تر بنګال پورې علاقې شاملې کړې، دومره ستر او مستحکم سلطنت د بنياد کښيودو په سوب مونږ وئيلو شو چې دی د دهلي سلطنت د بنياد ګرو ځنې يو ؤ.

د هندوستان په تاريخ کښې د شمس الدين د دور تاريخي اهميت هم دغه ؤ، کوم چې پورته بيان کړې شو، ولې خوشحال بابا ئې په عوامو کښې د شهرت او ناموری وجه عدالت ښودلې ده، د څۀ په حقله چې د تاريخ پاڼې څۀ نه وائي."" (22)

يو بل ځای کښې خوشحال بابا د علاوالدين د زوی قطب الدين ذکر داسې کوي.

بيــــا لــــــه پســــــه قطــــب الــــــدين د علائــــــي ؤ
چــې همــېش ئــې مــخ پــه عــيش او پــه عيشــرت ؤ (23)

دې شعر کښې خوشحال بابا د قطب الدين د عيش و نشاط تذکره کوي چې هغه په خپل دور کښې د عېش و عشرت نه علاوه نور څۀ نه دي کړي بلکې ټول وخت ئې هم په دغه مستۍ کښې تېر کړی دی. ولې دلته دا خبره د يادونې وړ ده چې خوشحال بابا د هند د حکمرانانو کوم ترتيب وار ذکر کوي د هغې تر مخه د قطب الدين نه وړاندې د علاوالدين ماشوم زوی شهاب الدين په تخت ناست دی او درې مياشتې حکومت ئې کړی دی ولې خوشحال بابا هغه نظرانداز کړی دی، اګرچې خوشحال بابا هم په دې قصيده کښې د سکندر شاه د يوې نيمې مياشتې د حکمرانۍ تذکره کوي لکه چې وائي:

بيــــا لــــه پســــه ســــکندر شــــاه د محمــــد شــــاه ؤ
چــې پــه تخــت ئــې يــوه نيمــه مياشــت مهلــت ؤ (24)

بائد چې خوشحال بابا د علاوالدين د ماشوم جانشين زوی شهاب الدين ددرې مياشتېزې مختصرې حکمرانۍ ذکر هم کړی وې نو داسې به د تاريخ د زنځيرپه کړيو کښې وت نۀ پيدا کېدو.

دغه شان خوشحال باباد امام ابو حنيفه د دورې په حقله وائي:

د هــــــــارون پــــــــه خلافــــــــت کښــــــــې
ددۀ کــــــار ؤ، پــــــه رفعــــــت کښــــــې (25)

دخوشحال بابا د دغه شعر نه جوتیږي امام ابو حنیفه د هارون الرشید په دور کښې د فقهې د کار په حواله د قبولیت په بام متمکن ؤ، حلانکې امام صاحب د خلیفه منصورهمعصر ؤ، او هم د هغهٔ د دورې سره یې تعلق لرلو. په دې لړ کښې د اردو انسائیکلو پیډیا دا معلومات د لوستو وړ دي.

" د عباسي خلیفه منصور په دور کښې چې د نفس زکیه ورور ابراهیم بغاوت وکړو نو امام صاحب د هغه ملګرتیا وکړه، منصور د اتمام حجت دپاره هغه ته د قضا عهده وړاندې کړه خو امام صاحب ددغې عهدې قبلولو نه انکار وکړو او منصور هغه په زندان کښې واچوو." (26)

"منصور چې امام اعظم صاحب په 146هـ کښې قید کړو نو دغه وخت د هغهٔ شهرت تر لرې لرې پورې رسېدلې ؤ، او بیا په تېره تېره د بغداد په علمي حلقو کښې خو هغهٔ ډېر زیات شهرت لرلو. ولې منصور بیا هم د هغهٔ نه ډېر زیات وئېرېدلو، او هغه له ئې په غلیب کشې زهر ورکړل، او کله چې امام صاحب ته پته ولګېده نو په سجده پرېوت او ساه ئې ورکړه. د امام صاحب د مرګ په خبرتول بغداد وجړقېد ،پنځوس زره کسان ئې په جنازه ودرېدل، او پینځهٔ ځله نور د هغهٔ جنازه ادا کړې شوه." (27)

دشهاب الدین غوري مقلب به معزالدین په حواله خوشحال بابا وائي:

داسـلام بادشـاه اول معزالـدین ؤ
چـې یـو کـال ئـې پـه دهلـي کښـې اقامـت ؤ (28)

د خوشحال بابا ددغه شعر نه بریښي چې معزالدین المعروف محمد غوري په دهلي کښې یو کال اقامت کړی دی، ولې د تاریخي شواهدو نه دا خبره ښکاره ده چې هغه په هندوستان (دهلي) کښې کله هم یو کال نهٔ دی پاتې شوی، حقیقت دادی چې هغه په هندوستان پنځلس حملې کړې دي،دوه ځله هغه ماتې خوړلې ده او دیارلس ځله بریالی شوی دی، دلته دا خبره د یادونې وړ ده چې د هغه د حملې نتیجه که به هر رنګې وه خو هغه په هندوستان کښې نهٔ دی ایسار شوی بلکې په مخه تللی دی. د نور تفصیل دپاره دې د " خلاصة التواریخ" 206، 207 مخونه (29) او د " تاریخ هندو پاکستان" 31 مخ (30)وکتی شي.

هم دا رنګې د سلطان معزالدین کیقباد د شخصیت په لړکښې دخوشحال بابا خیال څهٔ دا رنګې دی، وائي:

بیـا سـلطان معزالـدین کیقبـاد ؤ
ورځخـه چـې هـم صـورت او هـم سـیرت ؤ(31)

د معز الدین کیقبادد سیرت په حقله د خوشحال بابا ددغې خیال سره د تاریخي واقعاتو په رڼا کښې اتفاق کول سم نهٔ ښکاري لکه برني چې لیکي.

" څنګه چې هغه په عيش و عيشرت کښې اړام ؤ، هغه غوښتل چې ټول خلق دې د هغهٔ په رنګ په عيشونو کښې اخته شي". (32)

یو بل مورخ ليکي:

"د دې طرز فکر نتيجه دا را وو ته چې لوی، وړوکی، ځوان، بوډا ،عالم، جاهل، عاقل، نا پوهه، هندو، مسلمان غرض د معاشرې د هرې طبقې سره تعلق لرونکې یو کس هم د درباري ژوند د اثر نه محفوظ پاتی نهٔ شو، او په هره کوڅه کښې یوه پري پيکره او په هر بام يو غزل خوان په نظر راتلو، بلکې خبره دې ته ورسېده چې عالمان هم په دې مصيبت کښې اخته شول او زاهدانو د عبادت نه لاس واخستل." (33)

دغه رنګ ايم.اے قدوس د معزالدين دا اړخ څهٔ داسې جوتوي.

"دی يو ارام طلبه او نالائقه زلمی ؤ، په عيش او عيشرت کښې داسې ورک شو، چې د هر څهٔ نه بې خبره شو، او دغه د ملک ټول اختيارات دداسې سازشيانو اميرانو لاس ته ورغلل چا چې به هر وخت د کيقباد د تخت دلرې کولو او خپله د بادشاه کېدلو منصوبې جوړولې." (34)

دلته يوې بلې تېروتنې پله ستاسو پام راګرځول ضروري ګڼم او هغه دا چې خوشحال بابا په ذکر شوي قصيده کښې د سلطان غياث الدين بلبن عرف الف خان يادونه نهٔ ده کړې، چا چې د کيقباد نه وړاندې بادشاهي کړې ده،او پوره شل کاله او درې مياشتې ئې حکومت کړی دی، ولې خوشحال بابا ئې د هندوستان د حکمرانانو په فهرست کښې تذکره نهٔ ده کړې او دا شان د تاريخ دغه کړی له مينځه وتې ده. دې نه علاوه خوشحال بابا هم په دغه تسلسل کښې علاوالدين مسعود هم هېر کړی دی، حالانکې د هندوستان د تاريخ نه ښکاره ده چې هغهٔ په دې زمکه څلور کاله او يوه مياشت حکم چلولی دی.

په يو بل شعر کښې ستر خوشحال غياث الدين ثاني ته دفيروز شاه زوی وئيلې دی.

بيـــا ســــلطان غيـــاث الـــدين د فيـــروز شـــاه ؤ
چـــې نيـــولې يـــې لــــه وروره مملکـــت ؤ(35)

دلته دا خبره د ذکر وړ ده چې غياث الدين د فيروز شاه زوی نه بلکې نمسی ؤ، نوموړی تاريخ ليکونکی کے. علي په دې بابله خپل خيال داسې څرګندوي.

ترجمه" د فېروز شاه د مرګ نه پس د هغهٔ نمسی غياث الدين تغلق دوئم چې د فتح خان زوی ؤ، په تخت کښيناست. دی يو ډېر کمزوری او نالائقه حکمران ثابت شو." (36)

ددې شعر د دوئمې مصرعې خيال هم د تاريخي واقعاتو په بنياد سم نه دی، او هغه دا چې غياث الدين د خپل ورور نه د اقتدار واګې نهٔ وې تروړلې بلکې هغهٔ ته د خپل نيکهٔ نه تخت و تاج پاتې شوي ؤ. لکه صاحبزاده عبدالرسول چې ليکي:

" د فيروز شاه نه پس د هغهٔ نمسي د غياث الدين لقب اختيار کړو او په تخت کښيناست، د خپلې نااهلۍ او عياشي په وجه ترې ملکي چارې پاتې وې، ځکه نو د پينځهٔ مياشتو مختصر حکومت کولو نه پس په کال ۱۳۸۹ع کښې خپلو اميرانو دی قتل کړو." (37)

خوشحال بابا د يعقوب ليث د حکومت دورانيه پوره سل کاله يادوي، وائي:

د يعقـــــوب چـــــــې همـــــــت دا ؤ
پـــــه همـــــت کښـــــې بــــې همتـــــا ؤ
ســــــلطنت ئـــــــې ؤ، ســــــل کالـــــــه
ثـــــو کرســـــــۍ لــــــه اســـــتقلاله (38)

خو يعقوب ليث يولس کاله حکومت کړی دی نهٔ چې ددغه پورته شعر تر مخه هغه سل کاله د بادشاهي کړې ده. نظامي بدايوني ليکي

"ددې فتوحاتو په وجه د بغداد خليفه المعتمد دی باغي وګڼلو، او وروسته دی د يولس کالو د حکومت کولو نه پس بغداد ته په لاره په 878 ع مطابق 265 هـ حق ورسېد ، ددهٔ نه پس ئې ورور عمرو بن ليث جانشين شو. " (39)

خوشحال بابا لوی عباسي خليفه دهارون الرشيد نامه دوه ځايه هامون ليکلي ده، دا شعرونه ئې ولولئ:

مــــــــــامون زويـــــــــــه د هـــــــــــامون ؤ
پـــــــه هـــــــر فــــــن کښـــــــې ذوفنــــــون ؤ (40)

د بغــــــــــداد بادشـــــــــاه مــــــــــامون ؤ
چـــــــې پـــــــه عقـــــــل ذوفنــــــــون ؤ (41)

په هر حال د ستر خوشحال بابا ددغې اشعارو د څېړلو محض مقصد هم دغه ؤ، کوم چې ما ددې ليکنې په ابتدا کښې په وضاحت سره ذکر کړی دی، ددې شعرونو نه علاوه د خوشحال بابا په کلام کښې نور هم داسې ځايونه شته چې په هغې د تاريخي شهادتونو او حقيقتونو له خوا بحث کيدې شي، زهٔ هيله لرم چې څېړنکار به په دغه حواله نورې څېړنې وکړي او داسې به د تاريخ سمون ته نورې لارې خلاصې شي.

***

# حوالې

(1) خټک، خوشحال خان، کلیات خوشحال خان خټک، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند ،اداره اشاعت سرحد پيښور ۱۹۶۰ ء ، ۲۵۲ مخ
(2) همدغه کتاب ، ۸۰۷مخ
(3) القران ، سوره النساء ، ایت ۲۸
(4) غني خټک: خوشحال خان. افغان قومي شاعروفلاسفر ، پشتون کلچرل سوسائټي اسلام اباد جنوري ۲۰۰۹- ۷ مخ
(5) کلیات خوشحال خان خټک ، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند ۵۹۶ مخ
(6) کاکا خیل سیدبهادر شاه ظفر- پښتانه د تاريخ په رڼا کښې – یونیورسټي بک ایجنسي پيښور ، ۲۰۱۲ ، ۳۷۳ مخ
(7) چودهري. هدایت الله خان ، اسلامي تاريخ پاکستان وهند. علمي کتاب خانه لاهور –۱۹۸۹ع ، ۱۲۵ مخ
(8) کلیات خوشحال خان خټك، مرتبه دوست محمد خان کامل، 412 مخ
(9) پښتانه د تاريخ په رڼا کښې از بهادر شاه ظفر کاکاخیل ۳۲۶ مخ
(10) اسلامي تاريخ پاکستان و هند ، (از هدایت الله چوهدري) ۱۲۳ مخ
(11) خټک:خوشحال – دستار نامه، مرتبه حاجي پردل خان خټک، پښتو اکیډيمي پيښور، ۱۹۹۱ ع ۲۷ مخ
(12)ثروت صولت. ملت اسلامیه کي مختصر تاريخ . حصه دوم ، ۲۵۱،۲۵۳
(13) کلیات خوشحال خان خټک از دوست محمد خان کامل ، ۵۹۶ مخ
(14) اسلامي تاريخ پاکستان و هند –از هدایت الله چوهدري ، ۱۱۴ مخ ی
(15) کلیات خوشحال خان خټک از دوست محمد خان کامل ۵۹۶ مخ
(16) برني، ضیا الدین . فتاویٰ جهانداري . مترجم افسر بیگم ، کتاب محل دهلي ، سن اشاعت نه لري، ۳۳۵، ۳۳۶ مخونه
(17) لال.کې،ایس . خلجي خاندان، مترجم محمد یاسین مظهر صدیقي، ۲۴۴ مخ
(18) فتاویٰ جهانداري . از ضیا الدین برني . ۳۳۸ مخ
(19) خلجي خاندان از کې ایس لال . ۲۴۵ مخ
(20) حبیب محمد. خزائن الفتوح، ناشر نه لري ، ۱۹۳۳ ع ، ۱۲ مخ
(21) کلیات خوشحال خان خټک از دوست محمد خان کامل ، ۵۹۵ مخ

(22) بادشاه روم، د خوشحال په کلام کښې مذکور شخصيات، د پي ايچ ډي مقاله ۲۸۹، ۲۹۰د مخونه
(23) کليات خوشحال خان خټک مرتبه دوست محمد خان کامل ۵۹۶ مخ
(24) هم دغه، ۵۹۶ مخ
(25) کليات خوشحال مرتبه دوست محمد کامل ۱۹۵ مخ
(26) اردو انسائيکلو پيډيا ، فيروز سنز لاهور ، ۱۹۸۴ ، ۴۵ مخ
(27) اغا اشرف ، مشائخ اسلام ، معارج علامه اقبال ټاون لاهور، ار.زيډ پيکجز لاهور، ۱۹۹۰، ۷۲ مخ
(28) کليات خوشحال خان خټک مرتبه دوست محمد خان کامل ۵۹۶ مخ
(29) بټالوي. سجان رائے. خلاصته التواريخ، ۴۰۶،۴۰۷ مخونه
(۳۰) قدوس، ايم .اې، تاريخ هندو پاکستان ، ۳۱ مخ
(31) کليات خوشحال خان خټک مرتبه دوست محمد خان کامل ۵۹۶ مخ
(32) برني . ضيا الدين، تاريخ فيروز شاهي، ۱۶۷ مخ
(33) نظامي. پروفيسر خليق احمد ، سلاطين دهلي کے مزهبي رجحانات. ۱۸۹ مخ
(34) تاريخ هندوستان از ايم .اې قدوس ۴۹ مخ
(35) کليات خوشحال خان خټک مرتبه دوست محمد خان کامل ۵۹۶ مخ
(۳۶) k.Ali , A New History of India – Pakistan up to 1526, Pakistan Book Karachi ,1993, Pages 249,250
(37) تاريخ پاک وهند از ايم .اې قدوس ، ۱۱۲ مخ
(38) خټک.خوشحال خان، اخلاق نامه ، مرتبه حبيب الله رفيع ، ۵۰ مخ
(39) نظامي بدايوني . مشاهير مشرق ، ۵۲۸ مخ
(40) اخلاق نامه مرتبه حبيب الله رفيع ، ۵۱ مخ
(41) همدغه کتاب ، ۶۴ مخ